# په اسلامي شریعت کې د نکاح په عقد کې د ښځې رضایت او شرعي حیثیت، د څلورو مذاهبو مقایسوي او مقارني څېړنه

پوهنیار ملا عبدالاحد رفیقي[1*] ، نوماند پوهنیار سمیع الله حقانی[2]

اسلامي ثقافت[1و2]، شرعیاتو پوهنځي، فراه پوهنتون

ایمیل: Rafiqimujeb@gmail.com

**لنډیز**

اسلامي شریعت نکاح یو مشروع او مقدس تړون ګڼي چې د انسان د فطري اړتیاوو د پوره کولو، د نسل د ساتنې او د ټولنې د نظم د ټینګښت لپاره مقرر شوی دی .د دې څېړنې مسئله دا ده چې په ځینو ټولنو کې د ښځې له رضایت پرته نکاح ترسره کېږي، حال دا چې شریعت د ښځې رضایت یو اساسي شرط ګڼي .د څېړنې موخه دا ده چې د ښځې د رضایت شرعي حیثیت، دلایل او احکام د قرآن، حدیث او فقهې په رڼا کې روښانه کړي. په دې څېړنه کې توصیفي ـ تحلیلي میتود کارول شوی او د اسلامي فقهې دڅلورومذاهبو نظرونه هم ارزول شوي دي، د، پایلې ښیي چې ښځه د نکاح په اړه د خپلې ارادې د څرګندولو حق لري او د هغې له رضایت پرته نکاح روا نه ده، همداراز د رضایت ډولونه لکه صریح او ضمني بیان شوي او د ولي رول هم څېړل شوی دی. په پایله کې څرګندېږي چې جبري نکاح د شریعت خلاف ده او د ښځې رضایت د عادلانه او سالمې کورنۍ بنسټ جوړوي.

**کلیدي کلمې**: اسلام، رضایت، شریعت، نکاح، عقد.

# رضا المرأة في عقد النكاح وحكمه الشرعي في الشريعة الإسلامية: دراسة فقهية مقارنة بين المذاهب الأربعة

پوهنيار ملا عبدالاحد رفيقي[١*]، سميع الله حقانى[٢]

**الملخص**

يعدّ النكاح في الشريعة الإسلامية عقدًا مشروعًا ومقدسًا شُرع لتلبية الحاجات الفطرية للإنسان، وحفظ النسل، وتحقيق الاستقرار الاجتماعي. وتتمثل مشكلة هذه الدراسة في وجود ممارسات في بعض المجتمعات يتم فيها تزويج المرأة دون رضاها، مع أن الشريعة تجعل رضا المرأة شرطًا أساسيًا في عقد النكاح. وتهدف الدراسة إلى بيان المكانة الشرعية لرضا المرأة وأدلته وأحكامه في ضوء القرآن الكريم والسنة النبوية والفقه الإسلامي، اعتمدت الدراسة المنهج المكتبي الوصفي التحليلي حيث تم جمع النصوص الشرعية وتحليل آراء المذاهب الفقهية الأربعة. وتبين النتائج أن للمرأة الحق في إبداء إرادتها في الزواج، ولا يصح العقد بدون رضاها، كما تم توضيح أنواع الرضا، الصريح والضمني، وبيان دور الولي في عقد النكاح وتخلص الدراسة إلى أن الزواج القسري مخالف لمقاصد الشريعة، وأن رضا المرأة يُعدّ أساسًا لتحقيق العدالة وبناء أسرة مستقرة وسليمة.

**الكلمات المفتاحية**: الإسلام، الرضا، الشريعة، النكاح، العقد.

## سریزه

الحمد لله ربِّ العالمین، الذي شرع لعباده النكاحَ وجعله میثاقًا غلیظًا، وصان به الأعراض، وحفظ به الأنساب، وأقام به الأسرة على أساس المودة والرحمة، والصلاة والسلام على سیدنا محمدٍ، المبعوث رحمةً للعالمین، الذي بیَّن أحكام النكاح، وأرشد إلى العدل والإنصاف، وعلى آله وصحبه أجمعین، ومن تبعهم بإحسان إلى یوم الدین. أما بعد: قال الله تعالى: ﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَا یَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا﴾ [النساء، الآیة: ۱۹] ژباړه: اې مؤمنانو! تاسو ته دا حلاله نه ده چې ښځې په زور او ناخوښه حالت کې د خپل اختیار لاندې راوړئ.
نکاح په اسلامي شریعت کې یو مشروع او مهم عقد دی چې د انسان د فطري اړتیاوو د پوره کولو، د نسل د ساتنې او د سالمې کورنۍ د جوړولو لپاره تشریع شوی دی.
دا څېړنه څکه ارزښت لري چې د اسلامي شریعت له نظره د نکاح په عقد کې د ښځې د رضایت شرعي مقام او اهمیت روښانه کوي، د ښځې د حقونو په ساتنه کې د اسلام لارښوونې بیانوي، او د هغو ناسمو دودونو په اړه وضاحت وړاندې کوي چې ښځې له خپلې خوښې پرته واده ته اړ کوي. همدارنګه دا څېړنه د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي آثارو په رڼا کې د رضایت حکم او د فقهاوو نظرونه څرګندوي، څو د سالمې کورنۍ جوړښت او د نکاح د شرعي موخو په تحقق کې مرسته وکړي.
په اسلامي شریعت کې د نکاح مفهوم، مشروعیت او مقاصد بیانول. ۲ .د نکاح په عقد کې د ښځې د رضایت مفهوم او شرعي حیثیت روښانه کول. ۳. د ښځې د رضایت د اعتبار په اړه د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي دلایلو بیانول. ۴ .د نکاح په عقد کې د ښځې د رضایت ډولونه او احکام څرګندول. ۵. د نکاح په عقد کې د ولي رول او د هغه شرعي حدود بیانول. ٦ .د اجباري نکاح حکم او د هغې منفي پایلې د اسلامي شریعت له نظره روښانه کول.
د نکاح په عقد کې د ښځې د رضایت مسئله د اسلامي فقهې له مهمو موضوعاتو څخه ده چې پخوانیو فقهاوو او معاصرو څېړونکو د قرآن کریم، سنت نبوي او فقهي اصولو په رڼا کې پرې بحثونه کړي دي. پخوانیو لیکنو زیاتره د نکاح د شرایطو، د ولي د صلاحیت او د

ښځې د اجازې د حکم په فقهي بحثونو تمرکز کړی، خو په دې څېړنه کې د ښځې د رضایت شرعي مقام، اهمیت او معاصرې ستونزې په منظم ډول څېړل کېږي.

**د څېړنې کړنلار**: د تحلیلي او توصیفي میتود پر اساس دی، چې له مخې یې د اسلامي شریعت او فقهي مذاهبو د نظریاتو پرتله او ارزونه ترسره شوې ده. دا سریزه د څېړنې بنسټ جوړوي او لوستونکي ته د موضوع عمومي لید وړاندې کوي.

## د نکاح مفهوم

لکه څنګه چې د قاموس مؤلف نکاح داسي تعریف کړي (**النكاح في اللغة الضم، والجمع و في الشرع عقد بين الزوجين يحل به الوطئ و عند الفقهاء عقد يفيد حل استمتاع الرجل من امرأة لم يمنع من نكاحها مانع شرعي** (سعدي، ۱۴۰۸هـ.ق، ج۱ ص ۳۶۰).

ژباړه: نکاح یو ځای کېدل او یوځای کولو ته ویل کیږي، او په شرعي اصطلاح کې: د مېړه او ښځې تر منځ تړون دی چې له دې سره د اړیکې ترسره کول حلال کیږي.

همداراز په دررالحکام کې مولی خسرو داسي لیکي: (**لنِّكَاحُ فِي اللُّغَةِ الضَّمُّ، لِأَنَّ الزَّوْجَيْنِ حَالَةَ الْوَطْءِ يَجْتَمِعَانِ وَيَنْضَمُّ كُلٌّ إلَى صَاحِبِهِ حَتَّى يَصِيرَا كَالشَّخْصِ الْوَاحِدِ قَوْلُهُ وَمَعْنَاهُ شَرْعًا عَقْدٌ مَوْضُوعٌ لِمِلْكِ الْمُتْعَةِ ) أَيْ فِي عُرْفِ أَهْلِ الشَّرْعِ وَهُمْ الْفُقَهَاءُ ؛ لِأَنَّهُ مَتَى أُطْلِقَ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ مُجَرَّدًا عَنْ الْقَرَائِنِ فَهُوَ لِلْوَطْءِ فَقَدْ تَسَاوَى الْمَعْنَى اللُّغَوِيُّ وَالشَّرْعِيُّ ؛ وَلِذَا قَالَ قَاضِي خَانْ إنَّهُ فِي اللُّغَةِ وَالشَّرْعِ حَقِيقَةٌ فِي الْوَطْءِ مَجَازٌ فِي الْعَقْدِ**(منلا خسرو، ج۴ ص۳۸).

ژباړه: (نکاح) په لغت کې د یو ځای کېدو او نښلېدو معنا لري؛ ځکه چې مېړه او ښځه د جماع (وطء) په حالت کې سره یو ځای کیږي او یو بل ته نږدې کیږي، لکه یو شخص شي او په شرعي اصطلاح کې نکاح هغه عقد (تړون) دی چې د متعې(ګټې) د ملکیت لپاره ایښودل شوی دي؛ یعنې د شریعت د علماوو او فقهاوو په عرف کې نکاح داسې تړون ته ویل کیږي چې د مېړه لپاره له خپلې مېرمنې څخه د جنسي ګټې اخیستلو حق ثابتوي. ځکه کله چې د نکاح لفظ په قرآن او سنت کې پرته له قرینې (بلې نښې) څخه ذکر شي، نو عموماً د وطء (جماع (معنا ورکوي. له همدې امله لغوي او شرعي معناوې سره نږدې کیږي. له همدې کبله قاضي خان ویلي دي چې: نکاح په لغت او شریعت کې په

اصل کې د وطء (جماع) لپاره حقیقي لفظ دی، او د عقد (تړون) لپاره په مجازي ډول کارول کېږي.

ښځه: په عربي ژبه کې معادل د امرأة یا أنثی کلمې سره ده. په پښتو ژبه کې ښځه د انسان د مؤنث جنس لپاره کاریږي، لکه څنګه چې امرأة او أنثی هم په عربي کې د مؤنث جنس معنی لري(ابن منظور، ۱۴۱۷هـ. ق، ج۱۵ ص۵۴). نکاح یو مهم شرعي او ټولنیز تړون دی چې د نارینه او ښځې تر منځ مشروع اړیکه تنظیموي او د کورنۍ د جوړېدو بنسټ جوړوي.

**د نکاح مشروعیت د قرآن او سنتو له نظره**

د نکاح مشروعیت: نکاح په اسلام کې یو الهي او مشروع تړون دی چې د انسان د فطرت، عفت، نسل او ټولنیز نظم د ساتنې لپاره مقرر شوی دی.

لومړی، قرآني دلایل: الله تعالی فرمایي: ﴿**وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ**﴾ [النور، الآية:۳۲]

ژباړه: تاسو بې واده (یعنې مجرد) ښځې او صالح بندګان (یعنې نارینه او ښځې) واده کړئ. په دې آیت کې د نکاح صریح امر راغلی دی، او د اصولو له مخې امر د وجوب یا لږ تر لږه د استحباب قوي دلیل دی، نو دا د نکاح پر مشروعیت څرګند نص دی. ﴿**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً**﴾ [ الروم، الآية:۲۱].

ژباړه: د څښتن تعالی د آیاتو څخه دا دي چې له تاسو څخه یې ستاسو لپاره ښځې پیدا کړې، تر څو له هغې سره سکون پیدا کړئ، او د تاسو ترمنځ یې مینه او رحمتي (مروت) رامنځته کړې. دا آیت ښیي چې نکاح د الهي آیاتو څخه ده، او موخه یې سکون، محبت او رحمت دی. ﴿**نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ**﴾ [البقرة، الآية: ۲۲۳]

ژباړه: ستاسې ښځې ستاسو کښت (د نسل دی). دا آیت د نسل د دوام مشروع لاره نکاح معرفي کوي.

﴿**وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا**﴾ [النساء، الآية: ۲۱].

ژباړه: هغوی (ستاسو مېرمنو) له تاسو څخه یو ډېر ټینګ او دروند لوظ اخیستی دی. الله تعالی نکاح میثاق غلیظ بللی، چې د دې ستر اهمیت او مشروعیت ښکارندویي کوي.

**دوهم حدیثي دلایل:** رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: «**النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي**» ( السمرقندي، ۱۴۳۴هـ.ق، ج۱ ص ۵۲۰).

ژباړه: نکاح زما له سنتو څخه ده؛ نو څوک چې زما له سنت څخه مخ واړوي، هغه له ما څخه نه دی. دا حدیث څرګندوي چې نکاح د نبوي سنت یوه مهمه برخه ده.

**دریم فقهي دلایل: لِأَنَّ الِاشْتِغَالَ بالنِّكَاحِ مَعَ أَدَاءِ الْفَرَائِضِ وَالسُّنَنِ أَوْلَى مِنْ التَّخَلِّي لِنَوَافِلِ الْعِبَادَاتِ** (الکاساني، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۲ ص۲۲۹).

ژباړه: په نکاح کې بوخت اوسېدل، د واجبو او سنتو د تطبیق سره، د دې څخه غوره دي چې د عبادتونو نفلونه پرېږدې. کاساني رحمه الله څرګندوي چې نکاح تر تخلی د نوا فلو لپاره اولی ده. (**فَيَجِبُ التَّزَوُّجُ، وَإِنْ لَمْ يَخَفْ الْوُقُوعَ فِي الزِّنَا (قَوْلُهُ: فَإِنْ تَيَقَّنَ الزِّنَا إلَّا بِهِ فُرِضَ) أَيْ بِأَنْ كَانَ لَا يُمْكِنُهُ الِاحْتِرَازُ عَنْ الزِّنَا إلَّا بِهِ؛ لِأَنَّ مَا لَا يُتَوَصَّلُ إلَى تَرْكِ الْحَرَامِ إلَّا بِهِ يَكُونُ فَرْضًا** (الشامی،۱۴۱۲، ج۳ ص۶).

ژباړه: نو واده فرض دی، حتی که د زنا څخه د ډېږ کولو وېره هم ونلري (یعنې، که یقین ولري چې پرته له واده یې د زنا مخه نه نیول کېدای شي). ځکه هغه څه چې پرته له هغې (نکاح) د حرام څخه ډډه کول ممکن نه وي، هغه په حقیقت کې فرض ګڼل کېږي. ابن عابدین شامي رحمه الله وایي: کچېرې نفس دومره تحرک ولري چې د زنا وېره وي، نو نکاح فرض ګرځي. نظر: له قرآني آیتونو څخه څرګندېږي چې نکاح په اسلام کې یو مشروع او مهم الهي تړون دی. قرآن کریم نکاح د سکون، محبت او رحمت وسیله بللې او د انسان د فطري اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې مشروعه لاره ګرځولې ده. همدارنګه د نسل د بقا او د کورنۍ د جوړېدو بنسټ هم نکاح ګڼل شوې ده. ځکه نو قرآن کریم دا تړون «میثاق غلیظ» بللی چې د دې لوی اهمیت.

## د نکاح موخې او حکمتونه

### نسل ساتنه:

الله تعالی فرمایي:﴿**نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ**﴾ [البقرة، الآیة:۲۲۳] دا آیت ښیي چې نکاح د نسل د بقا مشروعه لاره ده.

همدارنگه: الله تعالى فرمايي: ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً﴾ [النحل، الآية: ۷۲].

ژباړه: الله تعالى له تاسو څخه ستاسو لپاره ښځې پيدا کړې، او له خپلو ښځو څخه يې تاسو ته زامن او لمسيان ورکړي. ه دې آيت کې د الله سبحانه وتعالى د رحمت څرګندونه شوې، چې انسان ته يې د ژوند د دوام او نسل د پراختيا لپاره کورنۍ او اولادونه ورکړي دي. رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فرمايي: «تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ» (ابوداود، ۱۴۳۰هـ. ق، ج۳ ص۳۹۵).

ژباړه: واده وکړئ له مينه‌ناکو او اولاده لرونکو ښځو سره، ځکه چې زه د تاسو له لارې امتونه زياتوم. دا حديث د نسل د زياتوالي او د نکاح د مشروع هدف څرګندونه کوي. «تَزَوَّجُوا فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ وَلاَ تَكُونُوا كَرَهْبَانِيَّةِ النَّصَارَى» (بيهقي، ۱۳۴۴هـ.ق، ج۷ ص۷۸).
ژباړه: واده وکړئ، ځکه زه د تاسو له لارې امتونه زياتوم، او د مسيحيانو د راهبانو په څېر مه کېږئ. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) مسلمانانو ته واده کول سپارښتنه کوي ترڅو نسلونه زيات شي، او ورته يادونه کوي چې د راهبانو د ژوند په څېر سخت يا مکمل تجرد (بې واده پاتې کېدل) د اسلام د سنت مطابق نه دی. نظر: د نکاح اصلي موخه د نسل ساتنه او د انسان د ژوند دوام دی. واده د کورنۍ د جوړښت، انساني اړيکو د ټينګښت او د اسلامي امت د پراختيا بنسټ دی. همدارنګه، اسلام اوږدمهاله تجرد ردوي او نکاح د فطري اړتياوو او د نسل د بقا مشروعه او الهي لاره ګڼي.

**عفت**

الله تعالى فرمايي: ﴿وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا﴾ [النور، الآية:۳۳]. ژباړه: او هغه کسان بايد پاک ژوند غوره کړي چې واده نه شي کولی. دا آيت څرګندوي چې نکاح د عفت وسيله ده. رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ ( القزويني، ۱۴۰۲هـ. ق،ج۱ ص۵۹۲).

ژباړه: ې د ځوانانو ټولګې! څوک له تاسو څخه د واده کولو توان لري، نو واده دې وکړي، ځکه دا د سترګو د ساتنې او د فرج د محافظت لپاره غوره ده. په دې حدیث کې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ځوانانو ته لارښوونه کوي چې د خپلې ځوانۍ په وخت کې که د واده توان لري، واده وکړي، ځکه دا د ګناهونو مخنیوی کوي، سترګې او د بدن پاکوالي ساتي. نظر: نکاح د عفت ساتنې او د بدن د پاکوالي یوه مشروع وسیله ده. واده د سترګو د ساتنې، د ګناهونو د مخنیوي او د ځوانانو د فطري اړتیاوو د کنټرول لپاره غوره لار ده، چې انسان ته د پاک ژوند او تقوا په لاره کې ثبات ورکوي.

**سکون**

الله تعالی فرمايي: ﴿**وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً**﴾ [الروم، الآية:۲۱]

ژباړه: د الله تعالی د آیتونو څخه دا هم دی چې له تاسو څخه یې ستاسو لپاره ښځې پیدا کړې، تر څو له هغې سره سکون پیدا کړئ، او د تاسو ترمنځ یې مینه او رحمت پیدا کړی دی. دا آیت نکاح د سکون، محبت او رحمت سرچینه معرفي کوي. ابن کثیر رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې لیکي: (**لَمَا حَصَلَ هَذَا الِائْتِلَافُ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْأَزْوَاجِ، بَلْ كَانَتْ تَحْصُلُ نَفْرَةٌ لَوْ كَانَتِ الْأَزْوَاجُ مِنْ غَيْرِ الْجِنْسِ. ثُمَّ مِنْ تَمَامِ رَحْمَتِهِ بِبَنِي آدَمَ أَنْ جَعَلَ أَزْوَاجَهُمْ مِنْ جِنْسِهِمْ، وَجَعَلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَهُنَّ مَوَدَّةً: وَهِيَ الْمَحَبَّةُ، وَرَحْمَةً: وَهِيَ الرَّأْفَةُ، فَإِنَّ الرَّجُلَ يُمْسِكُ الْمَرْأَةَ إِمَّا لِمَحَبَّتِهِ لَهَا، أَوْ لِرَحْمَةٍ بِهَا** ( ابن کثیر، ۱۴۱۹هـ. ق، ج٦ ص۳۰۹).

ژباړه: کله چې د انسانانو او ښځو ترمنځ دا اړیکه (یووالی او تړاو) رامنځته شي، که ښځې د بل جنس څخه وای، نو ممکنه وه چې د بېلتون یا نفرت احساس پیدا شي. بیا د الله د آدم اولادونو په حق کې د خپلې بشپړې رحمت له مخې، هغوی د خپل جنس څخه جوړ کړل، او د مینې (مودت) او رحمتې (رأفت) اړیکه یې ورسره پیدا کړه. ځکه نارینه ښځه یا د خپلې مینې له امله ساتي، یا د رحمت او مهربانۍ له مخې. په دې کې د واده د طبیعت فلسفه او د کورنۍ د اړیکو د مینې او رحمت بنسټونه تشریح شوي. نظر: نکاح د انسان د ژوند د سکون، محبت او رحمت یوه مشروع او الهي وسیله ده. واده د مېړه او ښځې

ترمنځ د عاطفي او روحاني اړیکو بنسټ جوړوي، کورنۍ قوي کوي او د انساني ژوند د آرامۍ او خوښۍ لپاره اساسي رول لري.

**د ټولنې اصلاح**

الله تعالی فرمايي: ﴿**وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا**﴾ [الاسراء:۳۲]. ژباړه: زنا ته مه نږدې کېږئ، ځکه دا یوه لویه فاحشه ده او د لارې له نظره ډېر بد کار دی. نکاح د زنا د مخنیوي مشروعه لاره ده. (**النِّكَاح سَبَبٌ يُتَوَصَّلُ بِهِ إِلَى مَقْصُودٍ هُوَ مُفَضَّلٌ عَلَى النَّوَافِلِ؛ لِأَنَّهُ سَبَبٌ لِصِيَانَةِ النَّفْسِ عَنْ الْفَاحِشَةِ** (الکاساني، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۲ ص۲۲۹).

ژباړه: نکاح یو وسیله ده چې له لارې یې یو ځانګړی هدف ته رسېدل کېږي، او دا د نفل عبادتونو نه غوره دی؛ ځکه چې دا د نفس د فحشاء (زنا) څخه ساتلو وسیله ده. دې ته اشاره شوې چې واده د انسان د ژوند یو ضروري او ارزښتمن ګام دی، ځکه چې دا د فحشاء څخه مخنیوی کوي او په همدې توګه د فرد او ټولنې د پاکوالي او ارزښتونو ساتنه کوي. نظر: نکاح د ټولنې د اصلاح، د زنا د مخنیوي او د فرد او ټولنې د اخلاقي ارزښتونو د ساتنې یوه مشروع او حیاتي وسیله ده.

**د ښځې د رضایت مفهوم**

علامه طبراني (رحمه الله) د رضایت په تعریف کې داسي لیکلي: (**الرضا في اللغة رَضِيَ بالشيء: قَنِعَ به وقَبِلَه** ( الطبراني، بی تا، ج۱ ص۳۴۷). ژباړه: رضایت په لغت کې: له یو شي سره راضي کېدل یعني پرې قانع کېدل او هغه منل. (**الأب والجد لا يملك تزويج البكر البالغة بدون رضاها على مذهب أبي حنيفة رضي الله عنه** (حنفي، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۱ ص۱۳۰).

ژباړه: پلار او نیکه د بالغې نجلۍ د نکاح کولو واک نه لري پرته له دې چې هغې خپله رضا ورکړې، د امام ابو حنیفه (رحمه الله) د مذهب له مخې. تحلیل: رضایت په لغت کې د زړه خوښي، قناعت او منلو معنا لري، د فقه له مخې، د بالغې ښځې رضا د نکاح د صحت شرط دی. نظر: رضایت د زړه خوښي او منلو معنا لري. په نکاح کې د بالغې ښځې رضا د ټرون د صحت شرط دی. دا د ښځې مشروع حق خوندي کوي. نکاح د رضایت پرته مشروع نه ده او د ښځې د رضا احترام اړین دی.

**د نکاح په عقد کې د رضایت ارزښت.**

نکاح په اسلام کې یو مهم او مقدس تړون دی چې د ښځې او سړي ترمنځ د مشروع کورني ژوند بنسټ جوړوي. د دې تړون د صحت او دوام لپاره اسلام ځینې اساسي اصول ټاکلي دي چې له مهمو څخه یې د دواړو لورو رضایت او خوښه ده. رضایت په نکاح کې د دې معنا لري چې ښځه او سړی دواړه د خپلې خوښې او ارادې له مخې د نکاح تړون مني او په دې اړیکه کې داخلیږي (سرخسي، ۱۴۱۴هـ.ق، ج ۵ ص۴۶۷).

دا اصل د اسلامي شریعت له نظره د انسان د کرامت، ازادۍ او د کورنۍ د سالم جوړښت د ساتنې لپاره ډېر مهم ګڼل شوی دی. د رضایت ارزښت ځکه مهم دی چې نکاح یوازې یو حقوقي تړون نه دی، بلکې یو دوامدار ژوندی اړیکه ده چې د مینې، باور او متقابل احترام پر بنسټ ولاړه وي. که نکاح د جبر او زور له لارې ترسره شي، نو د کورني ژوند ثبات له خطر سره مخ کیږي او د کورنۍ د ستونزو او شخړو احتمال زیاتیږي. له همدې امله اسلام هڅه کړې ده چې د نکاح په عقد کې د ښځې او سړي دواړو خوښه په پام کې ونیول شي، تر څو د راتلونکي ګډ ژوند لپاره سالم بنسټ رامنځته شي. د نکاح په عقد کې د رضایت اصل د دې لامل هم ګرځي چې د ښځې حقونه خوندي پاتې شي او هغه د ټولنې د یوه فعال او درناوي وړ غړي په توګه وپېژندل شي (کاساني، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۵ ص۲۱۴).

اسلام ښځې ته دا حق ورکړی چې د خپل ژوند د مهمو پرېکړو، په ځانګړي ډول د واده په اړه، خپله اراده څرګنده کړي. دا کار نه یوازې د ښځې شخصیت ته ارزښت ورکوي، بلکې د کورنۍ په جوړښت کې د عدالت او توازن فضا هم رامنځته کوي. همدارنګه رضایت د کورنۍ د ثبات او د ټولنې د سلامتۍ لپاره هم مهم رول لري. هغه کورنۍ چې د متقابل رضایت پر بنسټ جوړې شوې وي، عموماً د تفاهم، همکارۍ او مینې فضا لري. برعکس، هغه ودونه چې د زور او جبر له لارې ترسره کیږي، ډېر ځله د کورني تاوتریخوالي، شخړو او حتی د کورنۍ د ماتېدو لامل ګرځي. په پایله کې ویلی شو چې د نکاح په عقد کې رضایت یو بنسټیز ارزښت دی چې د اسلامي شریعت د عدالت، انساني کرامت او د کورنۍ د سالم جوړښت له اصولو سره تړاو لري. د ښځې او سړي خوښه د نکاح د بریالي او دوامدار ژوند لپاره مهمه ده، او د همدې اصل په رڼا کې اسلام د نکاح په مسئله کې د جبر

او زور مخالفت کړی او د متقابل رضایت اصل ته یې ځانګړی اهمیت ورکړی دی(ابن همام، ۱۴۲۴هـ. ق، ج۳ ص۲۷۹).

د نکاح په عقد کې رضایت یو بنسټيز ارزښت دی چې د ښځې او سړي د آزادۍ، د کورنۍ د ثبات او د ټولنې د سلامتۍ ضامن دی. متقابل رضایت د نکاح مشروعیت او بریالی او دوامدار ژوند تضمینوي، او اسلام په دې اصل ټینګار کړی دی.

**د رضایت د نه موجودیت شرعي پایلې**

دې وخت کې به پایله یوه د دې بر خو منځ ته راځې د بالغې ښځې نکاح به منعد نه وي موقوف، رد او فسخ کېږي به:

۱. د جبر مخیوی: (**وَلَا تُجْبَرُ بِكْرٌ بَالِغَةٌ عَلَى النِّكَاحِ ) أَيْ لَا يَنْفُذُ عَقْدُ الْوَلِيِّ عَلَيْهَا بِغَيْرِ رِضَاهَا عِنْدَنَا** (ابن نجیم،۱۴۲۴هـ.ق، ج۴ ص۸۴)

ژباړه: بالغه پېغله په نکاح باندې نه شي مجبورېدای، یعنې د ولي له لوري د هغې دنکاح عقد د هغې له رضایت پرته نافذ نه ګڼل کېږي. نظر: د رضایت نه موجودیت په نکاح کې د عقد باطلیدل یا موقوف کیدل را منځ ته کوي. رضایت د نکاح د مشروعیت او د ښځې د حقونو د ساتنې لپاره حیاتي اهمیت لري، او اسلام په دې ټینګار کړی چې هېڅوک ښځه د هغې د رضا پرته نکاح ته مجبور نه کړي.

۲. موقوف پر اذن: (**نكاح البكر بغير إذنها موقوف على إذنها، فإن زوجها، ولم يستأذنها، فإن بلغها وسكتت: جاز عليها، وإن ردت بطل**(الجصاص، ۱۴۳۱هـ.ق، ج۴ ص۲۸٦).

ژباړه: دپېغلې(بکرې) نکاح د هغې له اجازې پرته د هغې په اجازې پورې موقوفه وي، که چېرې ولې هغې ته نکاح وکړي اوله هغې څخه اجازه وانخلي، نو کله چې هغې ته خبر ورسېږي که هغه چوپه پاته شوه نو نکاح نافذه ګرځي او که چېرې هغې رد او انکار وکړی نکاح باطله کېږي.

۳. رد اوفسخ: (**أَنَّ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – رَدَّ نِكَاحَ بِكْرٍ زَوَّجَهَا أَبُوهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ** (سرخسي، ۱۴۱۴هـ.ق، ج۵ ص۲).

ژباړه: رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د هغې پېغلې نکاح رد کړه چې پلار یې نکاح ورته کړې وه، په داسې حال کې چې هغه له دې نکاح څخه ناخوښه وه.

## د ښځې د رضایت شرعي دلایل

### د قرآن کریم دلایل

الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا﴾ [النساء، الآية:١٩]

ژباړه: اې مؤمنانو !تاسو ته دا روا نه ده چې ښځې په زور په میراث واخلئ. همدارازالله تعالی فرمایي:﴿فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ﴾[ البقرة،الاية:٢٣٢]

ژباړه:نو هغوی مه منع کوئ چې له خپلو مېړونو سره نکاح وکړي کله چې هغوی په ښه ډول سره راضي شي. نظر: د قرآن کریم له آیتونو څخه څرګندېږي چې ښځه د خپلې خوښې له نکاح څخه منع کېدای نه شي، په زور نکاح کول منع دي. نکاح د رضا، عدالت او احترام پر بنسټ ولاړه ده، نو له همدې قرآني اصولو څخه فقهاء دا نتیجه اخلي چې د نکاح په عقد کې د ښځې رضایت ضروري دی.

### د نبوي احادیثو دلایل

د ابن عباس صاحب څخه روایت دی(**عن ابنِ عباس: أن جاريةً بكراً أتَتِ النبيَّ(صلَّى الله عليه وسلم) فَذَكَرَتْ أن أباها زوَّجها وهي كارِهَةٌ، فخيَّرها النبي (صلَّى الله عليه وسلم** ( السِّجِسْتاني، ١٤٣٠هـ.ق، ج٣ ص٤٣٦). ژباړه: یوه پېغله نجلۍ رسول الله (صلی لله علیه وسلم) ته راغله او ویې ویل چې پلار مې زما نکاح کړې ده خو زه پرې راضي نه یم، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغې ته اختیار ورکړ.

(**قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ**(ابن حنبل، ج٢ ص٤٣٤)

ژباړه: دکونډې ښځې نکاح نه کېږي تر څو ترې مشوره وانه خیستل شي، او د پېغلې ښځې نکاح نه کېږي تر څو اجازه ترې وانه خیستل شي. (**عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الْأَنْصَارِيَّةِ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ نِكَاحَهَا**( بخاري، ١٤٠٧هـ.ق، ج ٦ ص٢٧٨).

ژباړه: خنساء بنت خذام وايي: زما پلار زما نکاح وکړه خو زه پرې راضي نه وم، نو زه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ورغلم، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغې نکاح فسخه کړه. نظر: د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د احادیثو له مخې، د ښځې رضا د

نکاح د صحت اساسي شرط دی. اسلام د ښځې د حقونو، آزادۍ او کرامت خوندي ساتلو ته لومړیتوب ورکوي او د جبر یا زور په نکاح کې هیڅ مشروعیت نه پېژني.

**د فقهاوو اجتهادي استدلالونه**

د فقهاء کرامو دلایل په لاندي کې څرګنده کیږي(فَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُهَا بِغَيْرِ رِضَاهَا (سرخسي، ۱۴۱۴، ج٦ ص۲۹).

ژباړه: بالغه پېغله او کونډه ښځه د خپلې رضا پرته نکاح کېدای نه شي.

(وَلَا تُجْبَرُ بِكْرٌ بَالِغَةٌ عَلَى النِّكَاحِ) يُرِيدُ بِهِ أَنَّهُ لَا يُزَوِّجُهَا بِغَيْرِ رِضَاهَا (حنفي، هـ.ق ،۱۳۱۳، ج۲ ص۱۱۸).

ژباړه: باکره (بالغه) پر نکاح نه مجبور کړېږي، د اجبار نکاح یې جواز نلري تر څو د هغې رضایت نوي.

(لَا يَنْفُذُ عَقْدُ الْوَلِيِّ عَلَيْهَا بِغَيْرِ رِضَاهَا عِنْدَنَا( ابن نجیم، ۱۴۲۴هـ، ج۲ ص۱۱۴).

ژباړه: د بالغي ښځې نکاح د ولي له خوا پرته له رضا څخه نه نافذیږي

دفقهاوو کرامو اجتهادي استدلالونه ښیي چې د بالغې ښځې رضایت د نکاح یو ضروري شرط دی. نکاح پرته له رضایت مشروع او نافذ نه ده او د دې اصل رعایت د اسلامي شریعت د عدالت، آزادۍ او د کورنۍ د ثبات لپاره حیاتي اهمیت لري.

**د ښځې د رضایت په اړه د فقهي مذاهبو نظرونه**

**د حنفي مذهب نظر**

د حنفي مذهب له مخې د بالغې او عاقلې ښځې رضایتپه نکاح کې ضروري دی: ( **وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضاها** ( مرغیاني، ۱۴۲٦هـ، ج۱ ص۱۹٦).

ژباړه: د آزادې، عاقلې او بالغې ښځې نکاح د هغې د رضا(خوښې) سره منعقد او تړل کیږي. (وَأَنَّ الْمَرْأَةَ غَيْرُ مَمْنُوعَةٍ مِنْ أَنْ تُزَوِّجَ نَفْسَهَا مِمَّنْ يُكَافِئُهَا وَأَنَّ النِّكَاحَ يَنْعَقِدُ بِعِبَارَتِهَا(سرخسي ،۱۴۱۴هـ.ق، ج ۵ ص۴۵۷).

ژباړه: ښځه حق لري چې له خپل کفو (برابر سړي) سره پخپله نکاح وکړي او نکاح د هغې په خپل وینا او الفاظو سره هم صحیح واقع کیږي. (أَنَّ الْأَبَ وَالْجَدَّ لَا يَمْلِكَانِ إنْكَاحَ الْبِكْرِ الْبَالِغَةِ بِغَيْرِ رِضَاهَا عِنْدَنَا (کاساني ،۱۴۰٦هـ.ق، ج۵ ص ۲۱۰).

ژباړه: د بالغې عاقلې ښځې ولي (پلار او بابو) د هغې له رضا پرته نکاح کېدای نه شي. نظر: د حنفي مذهب له مخې د بالغې او عاقلې ښځې رضا د نکاح حیاتي شرط دی. نکاح د ښځې د خوښې او ارادې پرته نافذ نه دی، او دا د ښځې د حقونو، آزادۍ او د کورنۍ د ثبات د تضمین لپاره ضروري اصل دی.

**د شافعي مذهب نظر**

د شافعي مذهب له مخې د بالغې او عاقلې ښځې رضایتپه نکاح کې ضروري دی: (**حقا عَلَى الْأَوْلِيَاءِ أَنْ يُزَوِّجُوا الْحَرَائِرَ الْبَوَالِغَ إِذَا أردن النكاح ودعون إلى رضا** (ماوردي، ۱۴۱۹هـ.ق، ج۹ ص۳۷).

ژباړه: د والدینو یا خپلوانومسئولیت دی، چې باید د ښځې رضا ته پام وکړي او د هغې د اجازې پرته نکاح یې ترسره نکړي.

(**ولا يجوز النكاح دون رضا المرأة** (ضبي، ۱۴۱۶هـ.ق، ج۳ ص۹۴).

ژباړه: د ښځې له رضایت پرته نکاح جواز نه لري. د بالغې او عاقلې ښځې رضایت د نکاح اساسي شرط دی، او ولي مکلف دی چې د هغې له اجازې او خوښې پرته نکاح ترسره نه کړي.

**د مالکي مذهب نظر**

د مالکي مذهب له مخې د بالغې او عاقلې ښځې رضایتپه نکاح کې ضروري دی: (**وهو في حق الابكار المستأذنات واقع بالسكوت: أعني الرضا** ( ابن رشد،۱۴۲۵هـ.ق، ج۲ ص۴).

ژباړه: د بکرې (غیر واده شوې) ښځې چې د واده لپاره یې اجازه اخیستې وي، د سکوت له لارې تطبیق کېږي یعنې سکوت یې د رضا په معنا دی.

**أَنَّ وَلِيَّهَا لَا يُزَوِّجُهَا إِلَّا بِرِضَاهَا**(مدني، هـ.ق، ۱۴۱۵، ج۲ ص۱۵۳).

ژباړه: ولي (سرپرست) دې باکره(پېغله) په نکاح نه ورکوي پرته د هغې د رضا او خوښې. د بالغې او عاقلې ښځې رضا د نکاح اساسي شرط دی. نکاح د رضایت پرته نافذ نه دی، او د ښځې سکوت هم د رضا په معنا ګڼل کېږي، ترڅو د ښځې حقونه خوندي او کورنۍ بنسټ سالم پاتې شي.

**د حنبلي مذهب نظر**

د حنبلي مذهب له مخې د بالغې او عاقلې ښځې رضايتپه نكاح كې ضروري دی: (ووجب رضا المرأة ووليها، فنهى النبي - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الولي أن يزوج المرأة إلا برضاها (زركشي ، ۱۴۱۳هـ.ق، ج۵ ص۱۳۹).

ژباړه: د ښځې او د هغې د ولي رضا لازمه ده، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ولي منع كړی چې پرته د ښځې د رضا نكاح يې ونه كړي. (**إِذَا بَلَغَتْ الْجَارِيَةُ تِسْعَ سِنِينَ فَلَا يُزَوِّجُهَا أَبُوهَا وَلَا غَيْرُهُ إِلَّا بِإِذْنِهَا**(حنبلي، ج۸ ص۵۵).

ژباړه: كله چې نجلۍ نهه كلنۍ ته ورسېږي، نو د هغې پلار او نه هم بل څوك نشي كولای هغه په نكاح وركړي مګر د هغې له اجازې (رضا) پرته. د بالغې او عاقلې ښځې رضا د نكاح يوه حياتي او ضروري شرط دی، نكاح د رضايت پرته نافذ نه دی، او د ښځې اجازې ته درناوی د اسلامي شريعت د عدالت او د كورنۍ د ثبات لپاره لازمي ګڼل كېږي.

**د نظرونو پرتليزه ارزونه**

د اسلامي فقهې له نظره نكاح يو مهم ټولنيز او شرعي تړون دی چې د ښځې او سړي ترمنځ د مشروع ژوند د پيل سبب ګرځي. له همدې امله فقهاوو د نكاح د صحت لپاره يو شمېر شرطونه بيان كړي دي چې له مهمو څخه يې د ښځې رضا او خوښه ده. د اسلامي فقهې څلور واړه مذاهب د ښځې د رضايت اهميت مني، خو د دې د تطبيق او د ولي د صلاحيت په اړه د دوی ترمنځ ځيني اختلافات ليدل كېږي.

د حنفي مذهب له مخې كه ښځه بالغه، عاقله او آزاده وي، نو د نكاح په اړه د پرېكړې كولو بشپړ حق لري. په دې مذهب كې ښځه كولای شي خپله نكاح پخپله هم ترسره كړي، په دې شرط چې له داسې سړي سره واده وكړي چې د هغې كفو يا مناسب وي. له همدې امله د حنفي فقهاوو په اند پلار او نيكه هم نشي كولای د بالغې ښځې نكاح د هغې له رضايت پرته ترسره كړي. په دې توګه د حنفي مذهب په فقه كې د ښځې د ارادې او اختيار ساحه نسبتاً پراخه ده.

د شافعي مذهب له نظره د نكاح په عقد كې د ولي شتون ضروري ګڼل كېږي. په دې مذهب كې نكاح د ولي له لارې ترسره كېږي، خو د ښځې رضا هم مهم اصل بلل كېږي.

د شافعي فقهاوو په اند اولیا باید د ښځې خوښه او رضایت په پام کې ونیسي. البته د بکرې ښځې په نکاح کې پلار یا نیکه ته یو ډول ځانګړی صلاحیت ورکړل شوی دی، خو بیا هم د نکاح په موضوع کې د ښځې خوښه او مصلحت د پام وړ ګڼل کېږي.

د مالکي مذهب له مخې هم د نکاح لپاره د ښځې اجازه ضروري ده. په دې مذهب کې ولي نشي کولای ښځه د هغې له رضایت پرته په نکاح ورکړي. که ښځه بکره وي او د نکاح لپاره ترې اجازه وغوښتل شي، نو د هغې چوپتیا د رضا نښه ګڼل کېږي. په دې توګه د مالکي فقهې له مخې هم د نکاح په تړون کې د ښځې رضا یو مهم شرط بلل شوی دی.

د حنبلي مذهب له نظره د نکاح په تړون کې د ښځې رضا ضروري ګڼل کېږي او ولي ته اجازه نشته چې ښځه د هغې له رضایت پرته واده کړي. د دې مذهب له مخې هم د بکرې ښځې اجازه د هغې د سکوت یا چوپتیا له لارې څرګندېدای شي، خو د نکاح اصل باید د ښځې له رضایت سره سم ترسره شي.

په ټوله کې د اسلامي فقهې د څلورو مذاهبو د نظرونو له پرتله کولو څخه څرګندیږي چې د ښځې رضا د نکاح په تړون کې یو اساسي اصل دی. که څه هم د ولي د رول او د نکاح د طریقې په اړه د فقهاوو ترمنځ ځینې اختلافات موجود دي، خو ټول مذاهب په دې ټینګار کوي چې نکاح باید د رضایت، خوښې او تفاهم پر بنسټ ترسره شي، نه د جبر او زور له لارې. دا اصل د اسلامي شریعت د عدالت، انساني کرامت او د کورنۍ د سالم جوړښت له بنسټیزو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي.

## د ښځې د نکاح رضایت او د ولي(سرپرست) رول

### د ولي مفهوم او اهمیت

د (ولي) مفهوم: (الولي ضد العدو (القونوي، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۱ ص۱۴۸). ژباړه: د ولي کلمه ضد د عدواو دښمن ده، معنا ولي دوست او عدو دښمن (**الولي هو الذي یعقد علیها وینظر لها** (زاهر ، ۱۳۹۹، ج۱ ص۳۰۱).

ژباړه: ولي هغه څوک دی چې د ښځې عقد نکاح سر پرستي کوي او دهغې د مصلحت په اړه نظر کوي.

ولي د ښځې د نکاح سرپرست دی او د هغې د غوره ګټو ساتنه کوي، د بالغې او عاقلې ښځې رضا د نکاح د صحت لپاره ضروري شرط دی، ولي يوازې د مشورې او سرپرستۍ رول لري، نکاح د ښځې د رضا پرته نه کېږي، د اسلامي شريعت له نظره، د ښځې حق او اختيار بايد خوندي پاتې شي.

**د ولي د اجازې او د ښځې د رضايت ترمنځ اړيکه**

د ماشومې نابالغې د نکاح لپاره ولي شرط دی که چېري ولي نه وي نکاح نه منعقده کېږي اما د بالغې دنکاح لپاره شرط نه دی، يو مشاور دی او اجبار هم نشوای کوای(**الْوَلِيُّ شَرْطُ صِحَّةِ نِكَاحِ صَغِيرٍ وَمَجْنُونٍ وَرَقِيقٍ لَا مُكَلَّفَةٍ فَنَفَذَ نِكَاحُ حُرَّةٍ مُكَلَّفَةٍ بِلَا رِضَا وَلِيّ** (حصكفي، ۱۳۸٦هـق، ج۳ ص۵۵).

ژباړه: ولي د نکاح د صحت شرط دی د کوچني او ليوني لپاره اما د بالغې پيغلي د نکاح لپاره شرطه نه دی، ځکه د هغې نکاح منعقد کېږي بېله رضا د ولي.

(ولا يجوز للولي إجبار البكر البالغة على النكاح (قدوري، ۱۴۱۸،ج۱ ص۱۴٦).

ژباړه: ولي ته روانه ده چې بالغه پېغله په نکاح مجبورکړي.

(و َإِذَا زَوَّجَ الْبِكْرَ وَلِيُّهَا فَأَخْبَرَهَا بِذَلِكَ فَقَالَتْ: لَا أَرْضَى ...فَلَا نِكَاحَ بَيْنَهُمَا؛ لِأَنَّ الْعَقْدَ قَدْ بَطَلَ** (سرخسي، ۱۴۱۴هـ.ق، ج۵ ص۹).

ژباړه: که ولي پېغله نجلۍ نکاح کړي او وروسته هغې ته خبر ورکړل شي، نو که هغه ووايي: زه راضي نه يم نکاح نه کېږي، ځکه عقد د همدې له امله باطل ګرځي.

نظر: د ولي اجازې اهميت د کوچنيو او عقل نه لرونکو لپاره ضروري دی، خو د بالغې او عاقلې ښځې رضا د نکاح حياتي شرط دی. نکاح د رضايت پرته نافذ نه دی، او د دې اصل رعايت د ښځې حق او د کورنۍ د سالم جوړښت لپاره لازمي دی.

**د بالغې ښځې د نکاح حکم**

د احنافو له نظره بالغې عاقلې ښځې په خپله خپل نکاح منعقد کوای شي چې شاهدان وي بيله اجازې د ولي عقد د نکاح يې صحيح دی(**وينعقد نكاح الحرة العاقلة البالغة برضاها وإن لم يعقد عليها ولي بكرا كانت أو ثيبا عند أبي حنيفة** (المرغيناني، بي تا، ج۱ ص۱۹۱). ژباړه: د

آزادې، عاقلې او بالغې ښځې نکاح د هغې په رضايت سره صحيح کېږي، که څه هم ولي يې عقد ونه کړي، که هغه پېغله وي او که کونډه وي.

(ولم يشترط الولي في جواز العقد (جصاص، ۱۴۳۱هـ.ق، ج ۴ ص ۲۶۲) ژباړه: ولي د عقد دجواز لپاره شرط نه دی ګڼل شوی.

د بالغې ښځې نکاح د هغې د رضا پرته نافذ نه دی، حتی که ولي هم حاضر وي. د ښځې رضا د نکاح حياتي شرط دی، او دا د اسلامي شريعت له نظره د ښځې کرامت او د کورنۍ سالم جوړښت تضمينوي.

**د ښځې د رضايت د څرګندولو طريقې**

**صريح رضايت**

د کونډې رضا به صريح او په خوله ووايې(الثيب فلابد من رضاها بالقول (حنفي، ۱۴۰۶هـ.ق، ج۳ ص۹).

ژباړه: د کونډې ښځې لپاره ضروري ده چې خپل رضايت په الفاظو بيان کړي.

(**والثيب لا يجوز النكاح عليها إلا برضاها، ولا يكون ذلك إلا بالقول** (جصاص ۱۴۳۱هـ.ق، ج۴ ص ۲۹۰).

ژباړه: کونډه ښځه د هغې له رضايت پرته نکاح کېدای نه شي او دا رضايت بايد په الفاظو سره څرګند کړي. نظر: صريح رضا بايد په واضح الفاظو څرګنده شي. لکه د د کونډې ښځې.

**ضمني رضايت**

ضمني رضا سکوت دی(**فَقَالَتْ عَائِشَةُ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا – إِنَّ الْبِكْرَ تَسْتَحِي يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – إِذْنُهَا صُمَاتُهَا» وَرُوِيَ سُكُوتُهَا رِضَاهَا**) (کاساني، ۱۴۰۶، ج۲ ص۲۴۲).

ژباړه: حضرت عيشه (رضی الله تعالی عنها) وويل: ای د الله رسول! پېغله نجلی حيا کوي، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وفرمايل د هغې اجازه د هغې چوپتيا(سکوت) دی. (**وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا ، وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا** (ابن همام، ۱۴۲۴هـ. ق، ج٦ ص۴۷۲).

ژباړه: پېغله ښځه د خپل ځان په اړه تر ټولو زيات حق لري. نظر: سکوت يا چوپتيا د رضا نښه ګڼل کېږي، چې دا د هغې د اختيار او شخصي حق ساتنې لپاره د شريعت هوښيارانه

حل دی. ضمني رضايت د نكاح مشروعيت تضمينوي او د زور او جبر مخنيوى كوي، لكه په پېغلې ښځې.

**د باكرې(پېغلې) او ثيبې(كونډې) رضايت په نكاح كې**

د باكرې( پېغلې) رضا په نكاح كې دومري مهمه ده چې هيچا كه پلار يا حاكم دى بيله خوښي يې په نكاح نشواى وركړي: **لَا يَجُوزُ نِكَاحُ أَحَدٍ عَلَى بَالِغَةٍ صَحِيحَةِ الْعَقْلِ مِنْ أَبٍ أَوْ سُلْطَانٍ بِغَيْرِ إِذْنِهَا بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَالنِّكَاحُ مَوْقُوفٌ عَلَى إجَازَتِهَا فَإِنْ أَجَازَتْهُ ؛ جَازَ ، وَإِنْ رَدَّتْهُ بَطَلَ ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ** (شيخ نظام و زملائه، ۱۴۱۱هـ.ق، ج۱ ص۲۸۷).

ژباړه: د عاقلې سالمې بالغې ښځې نكاح د هغې له اجازې پرته نه پلار، نه سلطان او نه بل څوك كولاى سي. نو كه څوك دا كار وكړي: ( له اجازې پرته يې نكاح وكړي)، نو دا نكاح موقوفه (مشتمله)ګڼل كيږي، د هغې په اجازه پورې. كه هغه ښځه اجازه وركړي، نو نكاح جائز ده، او كه رد يې كړي، نكاح باطله ده. دا خبره همداسې په "السراج الوهاج" كې ذكر شوې ده.

په شريعت كې د نكاح مشروعيت د بالغو اشخاصو لپاره د هغوى په رضا باندې ولاړ دى، خو د نابالغو لپاره دا د پلار يا نيكه د ولايت حق پورې اړه لري. نور اقارب دا حق نه لري، او كه نور اقارب د هغوى نكاح وكړي نو دغه نكاح د صغيرانو(نابالغو) تر بلوغ(لويښت) او اجازي پوري موقوفه ده، تر څو دوى بالغان سي او خپله پرېكړه وكړي.
نظر: كله چې ښځه بالغه او عاقله وي، د نكاح مشروعيت يوازې د دې خپل اختيار او رضا پورې تړلې دى. د پلار، نيكه، يا نورو اقارب رضا د بالغې ښځې د نكاح لپاره شرط نه دى، كه بالغه ښځه د نكاح په اړه رضا ورنه كړي، نو نكاح باطل ګڼل كيږي.

الله تعالى فرمايي چې ښځه په ميراث نه وړل كيږي لكه څنګه چې دا قبيح عمل د جاهلانو وو: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا﴾ [ نساء، الآية: ۱۹].
ژباړه: اې مؤمنانو! تاسې ته روا نه ده چې ښځې په زور سره په ميراث واخلئ. دا آيات د جاهليت ناسم رواجونه ردوي، چې خلكو به ښځې د ميراث برخه ګڼله، اسلام دا عمل حرام كړ او ښځو ته يې خپل شرعي حق وركړ، لهذا هيڅوك حق نلري چې د نكاح لپاره پرښځې پشار راوړي. (**وفي الفقه الإسلامي وأدلته: للمرأة أهلية كاملة في ممارسة جميع التصرفات المالية من**

**بیع وإجارة ورهن وغیرها، فتکون أهلاً لمباشرة زواجها بنفسها؛ لأن التصرف حق خالص لها** (زحیلي، وهبه، ۱۴۰۹ هـ. ق، ج۷ ص۱۹٦). ژباړه: ښځه د مالي تصرفاتو لکه خرڅلاو، کرایه، رهن او نورو تصرفاتو کې بشپړ اهلیت (صلاحیت) لري، نو له همدې امله دا صلاحیت هم لري چې خپله نکاح پخپله وکړي، ځکه نکاح کول هم یو خالص حق دی چې هغې ته ورکړل شوی دی.

دا باید وپېژندل شي چې هر هغه څه چې مال وي، د مړي له مرګ وروسته د هغه وارثانو ته په میراث پاته کېږي؛ خو ښځه آزاده ده، او د هېڅ یو اسلامي مذهب له مخې د مال په توګه نه ده ګڼل کېږي، بلکې ښځه په ټولو مالي تصرفاتو کې بشپړ اهلیت (صلاحیت) لري. له همدې امله، ښځې میراث ګڼل (ښځې د میراث په توګه آخیستل) د قرآن کریم په صریح نص منعه او حرام دي. دا عبارت د جاهلیت د دورې یو نا روا دود ته اشاره کوي، چیرې چې ښځې د میراث د یوې برخې یا د ملکیت په توګه ګڼل کېدې، یعنې کله به چې یو سړی مړ شو، نو وارثانو به یې مېرمنې او نوري د هغه له مال سره سره یو ځای خپل ملکیت ګرځوی. اسلام دا ظلم له منځه یووړ او ښځې ته یې انساني کرامت، ازادي، او مالي اهلیت ورکړ. نظر: اسلام د جاهلیت د ناسم دودونو مخه نیولې چې ښځې د میراث یا ملکیت په څېر ګڼل کېدې. اسلامي شریعت څرګنده وي چې هیڅوک حق نه لري ښځه په زور نکاح ته اړ کړي، یعنې د ښځې رضا د نکاح لپاره لازمي شرط دی، ښځه په مالي تصرفاتو کې بشپړ اهلیت لري، او همداسې د خپل نکاح کولو حق هم لري. نکاح د مال په څېر نه دی؛ دا د ښځې شخصي حق دی چې باید د هغې خپله پرېکړه وي.

**پایله**

نکاح په اسلامي شریعت کې یو مهم او مقدس تړون دی چې د کورنۍ د جوړېدو او د ټولنې د نظم د ټینګښت لپاره تشریع شوی دی. د نکاح له مهمو اصولو څخه یو د ښځې رضایت دی چې د عقد د صحت لپاره اساسي اهمیت لري. اسلام ښځې ته دا حق ورکړی چې د خپل نکاح په اړه خپله اراده څرګنده کړي او د قرآن کریم آیتونه او د رسول الله ﷺ احادیث د ښځې د رضایت اهمیت په څرګنده توګه بیانوي. له همدې امله د ښځې له رضایت پرته نکاح د اسلامي شریعت له اصولو سره سمون نه لري.

د اسلامي فقهې د څلورو مذاهبو له نظره هم د ښځې رضایت د نکاح په عقد کې یو مهم اصل ګڼل شوی دی، که څه هم د ولي د رول په اړه د مذاهبو ترمنځ ځینې فقهي اختلافات موجود دي. خو بیا هم ټول مذاهب د دې خبرې ملاتړ کوي چې د ښځې رضا د نکاح په مسئله کې باید په پام کې ونیول شي. په اسلامي فقهه کې د رضایت د څرګندولو بېلابېلې طریقې بیان شوې دي. صریح رضایت هغه دی چې ښځه خپله خوښه په ښکاره ډول څرګنده کړي، او ضمني رضایت هغه دی چې د باکرې ښځې سکوت د رضایت نښه وبلل شي. همدارنګه د ثیبې ښځې لپاره صریح رضایت ضروري ګڼل شوی دی. څېړنه دا هم څرګندوي چې جبري نکاح د اسلامي شریعت له روح او اصولو سره په ټکر کې ده او دا ډول نکاح اکثره وخت د کورنۍ د بې ثباتۍ او ټولنیزو ستونزو سبب ګرځي. برعکس، د ښځې د رضایت رعایت د کورنۍ د ثبات، تفاهم او خوشحالۍ لامل ګرځي. په پایله کې ویلی شو چې اسلامي شریعت د ښځې کرامت، حقونه او اراده په ځانګړي ډول خوندي کړې دي، او د نکاح په تړون کې د ښځې رضایت یو مهم شرعي اصل دی چې د عدالت، انساني کرامت او د سالمې کورنۍ د جوړېدو لپاره ډېر ارزښت لري.

**وړاندیزونه**

۱. د اسلامي شریعت د لارښوونو په رڼاکې باید د نکاح په عقد کې د ښځې د رضایت حق ته جدي پام وشي.

۲. د علماوو او دیني مراکزو له خوا باید خلکو ته دښځې د رضایت شرعي اهمیت په اړه پوهاوی ورکړل شي.

۳. د جبري نکاح مخنیوي لپاره باید د اسلامي اصولو مطابق ټولنیز تدابیر ونیول شي.

**منابع**

**قرآن کریم**

ابن حنبل، أحمد. (بی‌تا). **مسند أحمد بن حنبل**. القاهرة: مؤسسة قرطبة.

ابن رشد، محمدبن احمد.( ۱۴۲۵هـ). **بداية المجتهد**. قاهرة: دار الحديث.

ابن کثیر، اسماعيل بن عمر.(۱۴۱۹ هـ). **تفسير ابن کثیر**. قاهره: المكتبة المعرفة.

ابن منظور، محمدبن مکرم.( ۱۴۱۷ هـ). **السان العرب**. بیروت: دار صادر.

ابن نجيم زين الدي.(۱۴۲۴هـ). **البحر الرائق شرح كنز الدقائق**. بيروت: دار الكتب الإسلامي.

ابن همام، محمدبن عبدالواحد.(۱۴۲۴هـ) فتح القديرشرح هدايه. بيروت لبنان: دارالكتب العلمية.

أبو الحسن، علي بن إسماعيل.(۱۴۲۰ه). المحكم والمحيط الأعظم. بيروت لبنان: دار الكتب العلمية.

أبو داود سليمان بن الأشعث.( ۱۴۳۰هـ).**سنن أبي داود**. لبنان: الرسالة العالمية.

ازهري، محمد بن أحمد.( ۱۳۹۸هـ). الزاهر في غريب ألفاظ.الكويت، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية.

بخاري، ابو عبدالله محمد بن إسماعيل.(۱۴۰۷هـ). **صحيح البخاري**. بيروت: دار ابن كثير.

بيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين.( ۱۳۴۴هـ). **السنن الكبرى**. الهند حيدر آباد: المعارف النظامية.

جصاص، أحمد بن علي.( ۱۴۳۱هـ). **شرح مختصر الطحاوي**. لبنان بيروت: دار البشائر الإسلامي.

حصكفي، علاء الدين محمد بن علي.( ۱۳۸۶هـ) **الدر المختار شرح تنوير الأبصار**. لبنان بيروت: دار الفكر.

حنبلي، علاء الدين علي بن سليمان. **الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف**. لبنان بيروت: دار إحياء التراث العربي.

حنفي، عثمان بن علي.( ١٣١٣هـ). **تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق**. القاهرة: المطبعة الكبرى الأميرية.

حنفي، عمر بن إسحق.( ١٤٠٦هـ). **الغرة المنيفة في تحقيق بعض مسائل الإمام أبي حنيفة**. قاهرة: مؤسسة الكتب الثقافية.

زحيلي، وهبه.( ١٤٠٩ هـ). **الفقه الاسلامي وادلته**. دمشق سورية: دارالفكر.

سرخسي، محمد بن أحمد.( ١٤١٤هـ). **المبسوط**. لبنان بيروت: دار المعرفة.

سعدي، أبو حبيب.( ١٤٠٨هـ). **القاموس الفقهي لغة واصطلاحا**. دمشق سورية: دار الفكر.

سمرقندي، عبد الله بن عبد الرحمن.( ١٤٣٤هـ). **مسند الدارمي**. لبنان بيروت: دار البشائر.

شامي، ابن عابدين، محمد أمين.(١٤١٢هـ). **رد المحتار على الدر المختار**. لبنان بيروت: دار الفكر.

شيخ نظام و زملائه.( ١٤١١هـ). **الفتاوى الهندية**. لبنان بيروت: دارالفكر.

ضبي، أبو الحسن أحمد بن محمد.( ١٤١٦هـ). **اللباب فى الفقه الشافعي**. المملكة العربية السعودية المدينة: دار البخاري.

طبراني، سليمان بن أحمد.(١٤٣٧هـ).**المعجم الأوسط**. مصرالقاهرة: دار الحرمين.

قدوري، أحمد بن محمد.( ١٤١٨هـ). **مختصر القدوري**. قاهرة: دار الكتب العلمية.

قزويني، ابن ماجة، محمد بن يزيد.(١٤٣٠هـ).**سنن ابن ماجه**. بيروت لبنان: دارالفكر.

قونوي، قاسم بن عبد الله.(١٤٠٦هـ ).**أنيس الفقهاء**. السعوي جدة: دار الوفاء.

كاساني علاء الدين.(١٤٠٩هـ). **بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع**. كوئته پاكستان: المكتبة الحبيبية.

ماوردي، أبو الحسن علي بن محمد.( ١٤١٩هـ). **الحاوي الكبير في فقه مذهب الإمام الشافعي**. لبنان: دار الكتب العلمية.

مدني، مالك بن أنس.( ١٤١٥هـ).**المدونة** . مصر قاهرة: دار الكتب العلمية.

مرغياني، أبي الحسن علي بن أبي بكر.(١٤٢٦هـ). **الهداية شرح بداية المبتدي**. لبنان بيروت: دارالفكر.

منلا خسرو، محمد. (بی‌تا). **درر الحكام شرح غرر الأحكام**. بيروت: دار إحياء الكتب العربية.

ميداني، عبد الغني بن طالب.(١۴٣٨هـ). **اللباب في شرح الكتاب**. بيروت لبنان: المكتبة العلمية.